زمزمه غزل

نظم
ژوند يوازې تسلسل د ساوو نه دی تماشه ده ژوند سل رنګه تماشه ده
ژوند لومړی ګام اخيستل د وړې لور دي
ژوند د مور له مينې ډکه پاپلی ده
ژوند آئينه کې د ماشوم لومړي کتل دي
ژوند ابا ته د بچي لومړی سلام دی
ژوند مکتب ته د بکسې تيارول دي
او د بس په انتظار کې څک غوږونه
د خپل نوم د زده کېدو نه پس خوښي ده
د مکتب د رخصتی د زنګ اواز دی

ژوند يوازې تسلسل د ساوو نه دی
ژوند زما پر زړه د خدای
مهربانی دي
لکه ته چې ناڅاپي مخې ته راشې
څو کتابه دې راوړي وې ډالی کې
لکه تاسره چې شړکنده باران کې
د چتری لاندې واړه ګامونه اخلم
ستا د عطرو او د خاورو خوشبويي وي
په اشنا لار نا اشنا غوندې روان يو

ژوند يوازې تسلسل د ساوو نه دی
ما د ژوند ځيني شېبې راپېتې کړې
له جنته د جنت له ښايستونو
مثلاًدا ستا د نرمې غېږې ورم
ستا د غېږ او پستو لاسو تودوالی
مثلاً هغه د تېر ژمې سړه شپه
چې د بندې اشه دارې مخته ناست وو
ستا څادر زموږ د دواړو پر اوږو و
ستا پر ښی مټه مې سر و لګولی
او بهر پهٔ رالوېدلو ژېړو پاڼو د موسم لومړني واوره ورېدله